## د کتاب معرفي

# تحلیل و نقد منشور طالبان




«تحلیل و نقد منشور طالبان» یو څېړنیز کتاب دی چې د 1399 کال په غوايي میاشت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت د پالیسیو او پروګرامونو عمومي ریاست تدوین کړی. دغه کتاب په 60 (A5) پاڼو کې شپږ څپرکي لري چې عموماً د طالبانو نظام او تولیز قوانین پکې څېړل شوي او بحث پرې شوی، د هر څپرکي تفصیلات یې په لاندې ډول دي:

**لومړی څپرکی:** په دغه څپرکي کې د عمومي موادو موضوعات څېړل شوي. لومړۍ ماده؛ دولتي نظام، دویمه ماده؛ حکومتي نظام، دریيمه ماده؛ دین، څلورمه ماده؛ د شرعي احکامو ضد قوانین، پنځمه ماده؛ د نورو دینونو پیروانو ته د دیني مناسکو د اجرا آزادي، شپږمه ماده؛ د اسلامي او شرعي اصولو په تطبیق کې د افغانستان وګړو ته تکلیف، اوومه ماده؛ د اسلامي شریعت خلاف قانون، اتمه ماده؛ د اسلامي امارت بیرغ، نهمه ماده؛ د افغانستان د اسلامي امارت نښان، لسمه ماده؛ کفري قوانین، یوولسمه ماده؛ د اسلامي امارت دندې، دوولسمه ماده؛ د شریعت ضد دودونه، دیارلسمه ماده؛ د اسلامي امارت دریځ، څوارلسمه ماده؛ مرکزي دارالافتا، پنځلسمه ماده؛ کانونه، شپاړسمه ماده؛ عام‌المنفعه پروژې، اوولسمه ماده؛ شهیدان او معلولین، اتلسمه ماده؛ د اسلامي امارت د کارکوونکو د تکلیف حدود، نولسمه ماده؛ د افغانستان پلازمېنه، شلمه ماده؛ د هېواد د پلازمېنې بدلول، یوویشتمه ماده؛ د اسلامي امارت لایحې او دوه‌ویشتمه ماده؛ تر ټولو وروستي تعدیل ته په کتو سره د لایحې بدلول.

**دویم څپرکی:** په دغه څپرکي کې شنل شوي موضوعات په دې ډول دي؛ د امیرالمؤمنین ټاکنه، حقوق او امتیازات، در ویشتمه ماده؛ امیرالمؤمنین، څلور ویشتمه ماده؛ د امیرالمؤمنین د ټاکلو لپاره صفات، پنځه ویشتمه ماده؛ د امیرالمؤمنین د ټاکلو طریقې، شپږ ویشتمه

ماده؛ د امیرالمؤمنین واکونه، اووه‌ویشتمه ماده؛ د کارونو د کولو لپاره د امیرالمؤمنین مسؤولیت، اته‌ویشتمه ماده؛ د امیرالمؤمنین مسؤولیت، نهه‌ویشتمه ماده؛ د اسلامي امارت د غړو عزل ګوښه کول او ګومارل، دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین لګښتونه، یو دېرشمه ماده؛ د عمر تر پایه د طالبانو امیرالمؤمنین ته د لګښتونو ورکړه، دوه‌دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین محاکمه، دري‌دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین حقوقي دعوه، څلور دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین ګوښه کول، پنځه‌دېرشمه ماده؛ د امارت د رهبرۍ نه میراثي‌توب، شپږ دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین د مرستیالانو ځانګړنې، اووه‌دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین د مرستیالانو ټاکنه، اته دېرشمه ماده؛ د امیرالمؤمنین د وفات، ناروغ، بندي یا ګوښه کېدو په صورت کې د امارت د چارو رهبري، نهه‌دېرشمه ماده؛ د نویو مرستیالانو ټاکنه.

**دریم څپرکی:** دغه څپرکی د اهل‌الحل و العقد (د رهبرۍ شورا) په اړه بحث کوي، څلوېښتمه ماده؛ د رهبرۍ په شورا کې د غړیتوب ځانګړنې، او یو څلوېښتمه ماده؛ د امارت د رهبرۍ شورا د غړو د ټاکنې خرنګوالی.

**څلورم څپرکی:** په دغه څپرکي کې د حکومت د جوړښت او تشکیل پر موضوعاتو بحث شوی، دوه‌څلوېښتمه ماده؛ حکومت، دري‌څلوېښتمه ماده؛ د وزارتونو شمېر، او څلور څلوېښتمه ماده؛ د وزیرانو د ټاکنې شرایط.

**پنځم څپرکی:** په دغه څپرکي کې د شورا په اړه بحث شوی، پنځه څلوېښتمه ماده؛ د اسلامي امارت شوراګانې، شپږ څلوېښتمه ماده؛ د رهبرۍ شورا، اووه‌څلوېښتمه ماده؛ د امارت د رهبرۍ شورا غړي، اته څلوېښتمه ماده؛ د رهبرۍ شورا د مسؤول ټاکنه، نهه څلوېښتمه ماده؛ د رهبرۍ شورا اداري تشکیل، دري‌شپېتمه ماده؛ د علماوو شورا، څلور اویایمه ماده؛ د ملګرو ملتونو سازمان په مقابل کې د اسلامي امارت دریځ، یو سلو شپږمه ماده؛ تعلیمات او تحصیلات، او یو سلو څلور څلوېښتمه ماده؛ فرهنګي چارې.

**د امر بالمعروف او احتساب څپرکی:** په دغه څپرکي کې راغلي موضوعات؛ یو سلو پنځه څلوېښتمه ماده؛ امر بالمعروف، دعوت او ارشاد څېړل شوي دي.

**شپږم څپرکی:** په دغه څپرکي کې د بیړني حالت د اړوندو موضوعاتو په اړه بحث شوی، یو سلو شپږ څلوېښتمه ماده؛ په بیړني حالت کې د امیرالمؤمنین واکونه، یو سلو اووه څلوېښتمه ماده؛ په بیړني حالت کې د اداراتو ادغام، یو سلو اته څلوېښتمه ماده؛ د بیړني حالت د ختمېدو تر اعلان وروسته اداراتو ته د ورکړل شویو واکونو لغوه کول.

په پای کې د دغه منشور له پایلې څخه داسې ښکاري چې د طالبانو منشور د واک د انحصار لپاره یوازې یو آیډه‌ال موډل دی. دغه منشور له یوه اړخه د دغې ډلې په ازمویل شوې منګول کې د واک د انحصار ښکارندوی دی او له بله اړخه په داسې سختو او متشددو ادبیاتو چمتو شوی چې د دوی غیر ملي فکر او همدارنګه د وطن‌دوستۍ د احساساتو نه‌شتون څرګندوي. پر دې سربېره په دغه منشور کې د ملي‌پالنې د روحیې او د افغانستان ګټو او ملي او تاریخي ارزښتونو ته د ژمنتیا نه‌شتون په کلکه څرګند او اندېښمنوونکی دی. د دغه منشور په ټوله محتوا کې ان په یوه ماده کې هم کومه داسې کلمه نه‌شته چې (ملي) مختارۍ یا وروستارۍ دې ولري.